مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۰/۰۲/۰۸

# په مکه کې د یوې نصرانی جنازه !؟

د غم او زغم په غوړیدلي لمن کې، د کډ سوله ایز ژوند د ستري تابلو څو کوټې په شمار خیرن او څه ځلیدلي انځورونه. کله چي د شوروي اتحاد دیکتاتور ستالین مړ شو نو خروشچوف او سیاسي پولیټ بیرو د تفاهم، درناوي او کډ سوله ایز ژوند د فلسفي نغاره وډنګوله، نو پراوډا ولیکل: د شوراګانو د هیواد ټول وګړي سم برابر او د خپل نظر مالکان دي. خو مازې څو میاشتي وروسته ولیدل شول چي په مسلماني مرکزي آسیا کې په زرګونو انسانان، څوک ووژل شول او ځیني د سایبریا کمپونو ته واستول شول.

د وال ستریټ جورنال، بي بي سي او الجزیرې د راپورونو له مخې، همدا اوس په سین کیانګ (ختیز ترکستان) کې څه باندی یو ملیون ایغوریان د کورونا د وایرس له ویرې نه، بلکي د خپلي عقیدې له امله په زندانونو کې پراته دي. د چین د ۴/۱ ملیارده وګړو پدغه پراخه وطن کې د هغوئ د کډ ژوند، ساده حق او ملي هویت، د شک او ګواښ په زولنو ترل شویدی. په برما کې د روهنګیا په سلګونو بی ګناه ولسي وګړي د نوبل جایزې ګټونکي (آنګ سان سوچي) د بنو لاندي، د کټاسو بودایي راهبانو لخوا ژوندي وسوځول شول. د سلګونو میرمنو د عفت جنازې پورته شوې او د اراکان څه باندی اوه لکه بی وسه بی کسه وګړي بنګله دیش ته په کډه کولو اړ شول. په هندوستان کې چي د غټي ډیموکراسی خاوره بلل کیږي، له هر ځایه راغلو کډوالو ته تابعیت او پناه ورکول کیږي خو مسلمانان لدی امتیاز څخه محروم دي.

څلویښت کاله وشول چې په ایران کې د آیت الله ګانو مطلقه واکمني ده. هره خوا، د دوئ په اصطلاح له شیطان بزرګ سره د دغرو او لاپو شاپو شعارونه اوریدل کیږي او هر څه د اسلام په خم کې رنګ او ځل بل وهي. خو ګورو چي یواځې په تهران کې ۲۸ سنیګاګ (د یهودانو معبدونه) او ۷۱ کلیساوې له دولت سره ثبت نام او دروازې یی پرانیستي دي، مګر د تهران د نیم ملیون سنیانو لپاره د یو جامع جومات د جوړلو اجازه نشته. دا د هغي ناسور شوي غمیزې مشت نمونه خروار بیلګي دي چي د زغم او ټولنیز عدالت په وړاندی یی دنګ دنګ دیوالونه درولي او د انساني اقدارو رنګ یی تت او ککړ کړیدی.

له بله پلوه، د مسلمانانو خپلمنځي اړیکي او له نورو سره د کډ ژوند کولو اصول، په څو قرآني آیتونو کې ښې په ګوته شویدي: (لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ - ستاسي لپاره ستاسی دین دی او زما لپاره زما خپل دین) بل ځای فرمایي (تاسو هغه چا ته سپکې سپورې مه وایئ څوک چي پرته له الله د بل چا عبادت کوي، ترڅو دوئ الله ته د دښمنی او ناپوهئ له مخې بد رد ونه وایي) د بقرې په سورت کې داسی راغلي ( لا اکراه فی الدین - په دین کې زور زیاتی او تشدد نشته).

د یو تاریخي سند په توګه، هیڅ خلیفه، هیڅ صحابي او هیڅ تابعي د خپلو فتحوحاتو په ترڅ کې یوه کلیسا او د یهودو یو معبد هم ندی وران کړی. د عمر فاروق په خلافت کې، د عمروبن العاص په مشری مصر ونیول شو، نو د فرعونیانو د مقبرو تر څنګ یی د یو په خیر د ابوالهول مجسمه، د یهودو کنائس او یوه کلیسا هم رنګه نکړه. د امویانو د واکمنی په مهال، د عمیر اللیثي او احنف بن قیس لښکرې کابل ته را ورسیدي خو د بامیانو بتان یی روغ رمټ پریښودل.

د صلیبي جنګونو په مهال (۱۱۸۸م) کال کې د بیروت محاصره اوږده او خلک له لوږې سره مخ شول، نو صلاح الدین ایوبي د کلابندو مسلمانانو لپاره په خوراکي توکو ډکي بیړۍ واستولي او امر یی وکړ چي د ښار مسیحیانو ته دی هم مرستي ورکړي. کله چي مغلو او تاتاریانو په ۶۹۹ هجري کال کې دمشق تر خپلي ولکي لاندي راوست نو د مسلمانانو ترڅنګ یي یهود او مسیحیان هم بندیان کړل. د جنګي تبادلي په خبرو کې امام ابن تیمیه هغوئ ته د روغي جوړې لپاره شرط کینود چي د مسلمانانو سره جوخت به یهود او نصاری هم آزادیږي، ځکه چي هغوئ زموږ رعیت او هیواد وال دي.

په ۸۶ هجري کال کې د امویانو لخوا په دمشق کې ستر تاریخي جومات جوړ شو. د لمرنیو اوو پیړیو لپاره دغه جامع جومات په دوو برخو ویشل شوی او غټه دروازه یی شریکه وه. مسلمانانو به ښۍ خوا ته خپل لمونځ او تلاوت کولو او مسیحیانو به په کیڼ اړخ کې د خپل عبادت مراسم تر سره کول. دغه اموي مسجد چي تر ننه آباد دی، بیا د دواړو خواوو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په خوښه، يواځي جومات پاتې شو او مسيحيانو ته بل ځای ورکړل شو چې ځانله کليسا جوړه کړي. د امام احمد بن حنبل په جنازه کې د مسلمانانو ترڅنګ د يهودو، مسيحيانو او هندوانو له سترګو د اوښکو سيلابونه روان وو او د جنوبي افريقا د نلسن منديلا او انګريزي شهزداګۍ، ډيانا په ماتم کې ځينو مسلمانانو هم انګولا وکړه.
په نيوزيلنډ کې د تير کال د مارچ پيښې وښوده چې ستونزه په مذهب کې نده، ځکه خو د دغه هيواد ځواني نصرانی صدراعظمي (جسندرا آرديرن) په جومات کې د ۵۹ لمونځ کونکو قاتل، سپين پوستی ترهګر وبللو. په ټول ملک کې يې ماتم اعلان کړ، تور ټيکری په سر او د غمزپلو کورنيو غړي يی بيل بيل په غيږ کې ونيول. په جومات حمله يی، په ټول هيواد بريد وګڼلو، کوم چې د ګډ ټولنيز ژوند او ملي هويت د بقا او ارتقا يوه ښه بيلګه وه. دغه سياسي مشره د وطنداری په مفهوم پوهيدله چې ټول وګړي پرته له دين، مذهب، ژبې، رنګ، تعليمي او مالي سطحې په پام کې نيولو سره، يو شان او برابر حقوق لري. ټولو ته جوته ده چې زموږ په دين او ربښتيني ډيموکراسی کې، هيڅوک له هيڅ چا پورته ندی او هيڅ کس له بل کس څخه کم ندی، مګر هغه څوک چې د تقوی او انسانيت ته د خدمت ګراف يی تر نورو لوړ وي.
ولی تر هر چا وړاندی، په مدينه منوره کې حضرت پيغمبر (ص) له يهودو، مسيحيانو او حتی پيژندل شوو منافقينو سره سوله ايز ژوند او معاهدې کولې، د هغوئ جنازو ته درېدلو او د مريضانو پوښتنه يی کوله. خپله لور او نژدی ملګري يې د حبشي نصراني پاچا، نجاشي ته واستول او کله چې وفات شو نو په مدينه کې يی د هغه غائبانه جنازه وکړه. کله چې د هجرت په نهم کال د نجران د مسيحيانو ۱۴ کسيزه ډله مدينې ته راغله، نو پيغمبر (ص) ورته اجازه ورکړه چې د ده په جومات کې خپل مذهبي شعائر تر سره کړي.
امام ابن شيبه يو حديث رانقلوي چې: د مشهور صحابي، الحارث بن عبدالله مور چې د عبدالله المخزومي ميرمن او له حبشي څخه راغلې نصرانی وه، په مکه کې وفات شوه. نو دغه وخت د حضرت پيغمبر زښته ډير اصحاب لا ژوندي او په مکي مکرمې کې اوسيدل. د دغو اصحابو ګڼ شمير سره دی چې پوهيدل دغه ميرمن يوه مسيحی ده، خو بيا يی هم جنازې ته ورغلل او خواخوږي يې ورسره وکړه. ځکه هغوئ پوهيدل چې د ټولنې د افرادو ترمنځ زغم کول، يو د بل منل او په کلتوري ارزښتونو باور لرل، خپلمنځي اړيکي کوشير او د انساني کرامت پيوندونو ته غوټې اچوي.
اوس پدی خبره د چا سر نه خلاصيږي چې آيا د حضرت پيغمبر دغه اصحاب به د خپل نبي په سنتو سم برابر او ښه پوهيدل، که زموږ په سيمه کې د حورو او غلمانو دا اماتور شوقيان؟ چا چې د څوارلسو پيړيو مسلمان ولسونه پدی څلورو لسيزو کې د افراط په قمچينه تغمه تغمه او د خپل ځانګړي ديني هويت په بټی کې وريت وريت کړل ؟؟
..................................................
يادوونه: په منني سره، ما د پاسنی ليکنې په ليکنه کې د الجزيرې د نړيوالی شبکې څخه اقتباس او د وال سټريټ جورنال او القدس العربي د ورځپانو، د مولوي سرفراز جانباز له تفسير، د البدايه و النهايه تاريخ، ګوګل او ويکيپيډيا څخه استفاده کړيده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ